د چارو اداره

څوارلسمه ګڼه | د وري میاشت | د پیل کال ۱۴۰۳-۱۴۴۶



# اداره امور

- د قوش تېپې ستره پروژه د تخنیکي ارزونو او راتلونکو پلانونو مهم پړاو ته ورسېده
- دومین جلسه نوبتی به هدف تطبیق حکم عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی برگزار شد
- جلسه آگاهی دهی عامه و مبارزه علیه ماین‌ها برگزار شد
- د وزیرانو شورا اوولسمه غونډه ترسره شوه

بسم الله الرحمن الرحيم

# د چارو اداري لوی ریاست میاشتنۍ مجله

**د امتیاز خاوند:** د چارو اداري لوی ریاست

**مسؤول مدیر:** مفتي احسان الله بدر

**کتنپلاوی:** مفتي نجیب الله حکیمي، محمد قاسم طوطاخېل،
ډاکټر سیف الله خالد، ضیاء الحق رفاه

**خبریالان:** محمد شعیب رحیمي، محمد الیاس احمدي،
فریدالله عزام

**انځورګر:** محمد عمر علیزی

**ډیزاینران:** خان وطنیار، سیف الرحمن وردګ



www.aop.gov.af

media.aop.afg@gmail.com

مرمرینه ماڼۍ، کابل افغانستان

0202143351




# د اسلامي امارت پوهنې وزارت له لوري د نوي ښوونيز کال پيل غونډه ترسره شوه

د اسلامي امارت پوهنې وزارت له لوري اماني عالي ليسه کې د چارو اداري لوی رئيس شيخ الحديث مولوي نورالحق انور، د رياست الوزراء عالي مقام اداري مرستيال مولوي عبدالسلام حنفي، د اطلاعات او کلتور وزير شيخ شير احمد حقاني او يو شمېر نورو مسؤولينو په ګډون د نوي ښوونيز کال پيل په موخه غونډه ترسره شوه.

د ۱۴۴۷ هـ.ق کال شوال المکرم ۸مه/۱۴۰۵ هـ.ش کال وري ٦مه د چارو اداري لوی رئيس شيخ الحديث مولوي نورالحق انور وويل: د شکر ځای دی، چې د امن او بشپړې خپلواکۍ په فضاء کې نوی ښوونيز کال پيلوو؛ د ټولو انتفاعي، خدماتي او امنيتي ادارو باکفايته کېدو او همدا راز د پرمختګ او ښېرازۍ ته د لارې برابرېدو لپاره تعليمي بهير ته توجه او د تعليمي معيارونو رعايت ضروري دی.

شيخ الحديث مولوي نورالحق انور وويل: کومو هېوادونو او نظامونو چې د ښوونې او روزنې برخې ته پام کړی دی، ښې پايلې يې هم تر لاسه کړې دي او اسلامي امارت خپلو تېرو تجربو ته په کتو د ښوونې او روزنې برخه کې خپل وس او توان کاروي او ځانګړې پاملرنه يې ورته کړې ده.

د چارو اداري لوی رئيس وويل: کومو نظامونو چې په دې برخه کې د بې غورۍ څخه کار اخيستی دی، بيا يې بدې پايلې لرلي دي؛ په تعليمي برخه کې که استاد، زده کوونکی، نصاب، د معلوماتو انتقال، طرز او ترتيب، د تعليم ماحول او چاپيريال معياري ول، په ګڼو مواردو کې يې ستونزې حل شوې دي.

نوموړي ټينګار وکړ چې استاد معمولي شخص نه دی؛ د استاد، ګفتار، کردار اوړتيا، ديد. سيرت او صورت پر زده کوونکو ژور اغېز لري، دا هغه مهمه دنده ده، چې انبياؤ ترسره کړې، رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي د انبياؤو وظيفه په مجموع کې همدا ده چې د انسانانو د پوهاوي لپاره رالېږل شوي دي، ترڅو خلکو ته زده کړه ورکړي، د دنيا او اخرت لپاره به با بصيرته او نېکمرغه خلک ترې جوړوي.

ياده غونډه د قرآن کريم په تلاوت پيل او د خير دعاء سره پای ته ورسېده.

# نشست هماهنگی به منظور ساخت

## مارکیت تجارتی بیهقی برگزار شد

نشست هماهنگی به منظور چگونگی ساخت مارکیت تجارتی بیهقی در شهر کابل میان نمایندگان وزارت های مالیه، اطلاعات و فرهنگ و شرکت فقیر محمد رحمانی به ریاست مولوی انجنیر احمد ضیاء خالد، رئیس تسهیل سرمایه‌گذاری ریاست عمومی اداره امور در تالار جلسات این اداره تدویر گردید.

یکشنبه، ۱۱ شوال المکرم ۱۴۴۷ هـ.ق / نهم حمل ۱۴۰۵ هـ.ش

رئیس تسهیل سرمایه گذاری اداره امور در آغاز این نشست بر اهمیت تطبیق این پروژه تأکید کرد.

از سوی دیگر، نمایندگان شرکت فقیر محمد رحمانی از روند ساخت مارکیت مذکور گزارش مفصل خویش را ارائه کردند و طبق معلومات آنها مارکیت بیهقی در ناحیه اول ولایت کابل با هزینه حدود سی میلیون افغانی در دو طبقه به تعداد ۵۹ دکان اعمار میگردد.

در این نشست نمایندگان ادارات اشتراک کننده اطمینان دادند که در اجرای این پروژه همکاری همه‌جانبه می‌نمایند.

در اخیر جلسه، رئیس تسهیل سرمایه گذاری اداره امور فیصله نمود که پس از بررسی و تکمیل اسناد مرتبط، به این شرکت اجازه اعمار مارکیت داده شود.



# د قوش تېپې ستره پروژه د تخنیکي ارزونو
## او راتلونکو پلانونو مهم پړاو ته ورسېده

د چارو اداري لوی ریاست د پروژو چارو انسجام ریاست رئیس، مولوي عمار زمرک یاسر، د تخنیکي پلاوي له غړو سره یو ځای د ملي پراختیا شرکت د رهبری هیئت سره غونډه ترسره کړه. دغه غونډه د قوش تېپې کانال پروژې د پرمختګ، تخنیکي ستونزو او راتلونکو پلانونو د ارزونې په موخه جوړه شوې وه.

په غونډه کې د قوش تېپې سترې ملي پروژې اړوند تخنیکي ستونزې په هر اړخیز ډول وڅېړل شوې او د ګډونوالو ترمنځ د نظرونو رغنده تبادله وشوه؛ پایله کې یې لاندې مهمې پرېکړې وشوې:

د قوش تېپې پروژې د پنځه کلن پلان لومړیتوبونه وړاندې شول او د لا زیاتې تخنیکي ارزونې لپاره تخنیکي مجلس ته وسپارل شول؛ ترڅو د راتلونکو کلونو منظم پلان ترتیب شي.

همدارنګه، د بشپړو فازونو د تسلیمۍ لپاره به اړونده اداري ګډه ناسته ترسره کړي.

د ملي پراختیا شرکت ته لارښوونه وشوه چې یوه جامع تخنیکي او اقتصادي طرحه چمتو کړي او تخنیکي ټیمونه دې د پروژې ساحوي ستونزې پر وخت حل او د چارو د ښه پرمختګ لپاره لازم اقدامات ترسره کړي.

دا غونډه د قوش تېپې کانال پروژې د اغېزناک تطبیق او د تخنیکي ستونزو د حل بهیر پیاوړتیا په برخه کې یو مهم ګام بلل کېږي.

یاده غونډه د قرانکریم په تلاوت پیل او د خیر دعاء سره پای ته ورسېده.



# دومین جلسه نوبتی به هدف تطبیق حکم عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی برگزار شد


دومین جلسه به هدف تطبیق هرچه بهتر حکم شماره (۲۲۰۸/۵۳۹۵) عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی در پیوند به دیجیتل سازی صدور جوازهای تجارتی تحت ریاست مفتی عبدالواحد عثمانی، رئیس پالیسی و استراتژی ریاست عمومی اداره امور با اشتراک ادارات مربوطه در تالار جلسات ریاست عمومی اداره امور برگزار گردید.

در آغاز جلسه، رئیس پالیسی و استراتژی ریاست عمومی اداره امور به اشتراک‌کنندگان خوش‌آمدید گفت و سپس در مورد تصامیم جلسه قبلی جهت تطبیق حکم یادشده معلومات مفصل ارائه نمود.

نمایندگان ادارات مربوطه نظریات خویش را برای تطبیق بهتر این حکم ارائه کردند و بر ایجاد یک سیستم واحد الکترونیکی برای صدور جوازهای تمام ادارات تأکید نمودند تا سهولت‌های بیشتری برای مراجعین ایجاد گردد.

در پایان، رئیس پالیسی و استراتژی اداره امور پس از استماع نظریات اشتراک‌کنندگان، گفت که وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی باید یک سیستم واحد آنلاین الکترونیکی را برای صدور جوازها برای وزارت صنعت و تجارت ایجاد کند که در آن هر وزارت و اداره سکتوری، بخش خاص خود را داشته باشد.

این جلسه با تلاوت آیات قرآنکریم آغاز و با دعای خیر به پایان رسید.



# د پانګونې اسانتیا رئیس
## په مشرۍ هېواد کې د مهمو اقتصادي بنسټونو
## ترمنځ د همغږۍ غونډه ترسره شوه

د چارو ادارې لوی ریاست د غونډو په تالار کې د پانګونې اسانتیا رئیس مولوي انجنیر احمدضیاء خالد په مشرۍ هیواد کې د مهمو اقتصادي بنسټونو ترمنځ د همغږۍ پیاوړتیا او شته ستونزو ته د حل لارو موندلو په موخه غونډه ترسره شوه چې په کې د هیواد سوداګرۍ او پانګونې خونې، صنایعو او معدنونو خونې، کرنې او مالدارۍ او کسبه‌کارانو او دوکاندارانو خونې استازو ګډون کړی وو.

دوشنبه، ۱٤٤۷هـ.ق شوال‌المکرم ۱۹مه/۱٤۰۵هـ.ش وری ۱۷مه.

د غونډې په پیل کې د یادو خونو استازو د اسلامي امارت له رهبرۍ او اړوندو ادارو څخه د همکاریو او اسانتیاوو برابرولو له امله مننه وکړه اوخپلې ستونزې، ننګونې او وړاندیزونه یې له ګډونوالو سره شریک او د حل لپاره یې د ګډ کار او همکارۍ پر اړتیا ټینګار وکړ. همداراز یې زیاته کړه که د اړوندو ادارو ترمنځ همغږي لا زیاته شي؛ نو د پانګونې چاپېریال به لا ښه او د خصوصي سکټور ستونزې به په ښه توګه حل شي.

د چارو ادارې لوی ریاست د پانګونې اسانتیا رئیس په خپلو خبرو کې ژمنه وکړه چې د ګډونوالو ټولې مطرح شوې ستونزې او وړاندیزونه به د اسلامي امارت تر مسؤولینو ورسوي او د حل لپاره به یې لازم اقدامات ترسره کړي. هغه زیاته کړه چې یاد ریاست هڅه کوي؛ ترڅو د پانګونې لپاره مناسب چاپېریال رامنځته کړي او د خصوصي سکټور د ودې په برخه کې اسانتیاوې برابرې کړي.

یاده غونډه چې د قرانکریم په تلاوت پیل شوې وه؛ د خیر په دعاء سره پای ته ورسېده.



# جلسه آگاهی دهی عامه
## و مبارزه علیه ماین‌ها برگزار شد

نشستی با اشتراک شیخ الحدیث مولوی نورالحق انور رئیس عمومی اداره امور و شماری از رئیسان و نمایندگان سرمایه‌گذاران خارجی به هدف آگاهی دهی عامه در مورد خطرات ماین‌ها و حمایت از فعالیت‌های ماین پاکی برگزار شد.

۲۰ شوال المکرم ۱۴۴۷ هـ.ق / ۱۸ حمل ۱۴۰۵ هـ.ش

شیخ الحدیث مولوی نورالحق انور، رئیس عمومی اداره امور در این جلسه گفت: کشور ما در چندین دهه گذشته شاهد تجاوزها و جنگ های دوامدار بوده است که آلودگی به ماین‌ها نیز از پدیده های منفی و بد همین تجاوزها به حساب می‌آید. شریعت اسلامی مانند سایر بخش های زندگی در مورد جنگ و مقابله نیز اصول و هدایات واضح دارد. هدف از جنگ در شریعت اسلامی کشتن انسان‌ها، ویران کردن شهرها و پریشان ساختن مردم نیست.

رئیس عمومی اداره امور فزود: جنگ برای اهداف مقدس صورت می‌گیرد تا امنیت و سلامتی تأمین گردد و مردم بتوانند در چارچوب احکام عادلانه الهی به اهداف مشروع خود رسیدگی نمایند. الحمدلله، امارت اسلامی افغانستان از آغاز تا پایان روند جهادی به هدایات اسلامی متعهد بوده و از هرگونه آسیب به افراد ملکی و بی‌گناه جلوگیری نموده است.

شیخ الحدیث مولوی نورالحق انور، گفت: امارت اسلامی موجودیت ماین‌ها را تهدید جدی برای زندگی افغان‌ها به‌ویژه کودکان و حیوانات می‌داند و آن را محکوم می‌کند و یک عمل ضد بشری می شمارد. این ماین‌ها توسط کسانی کارگذاری شده است که از انسان دوستی و حقوق بشر سخن می‌گویند، اما در اینجا چنین اعمالی را انجام داده اند.

نشست یادشده با تلاوت قرآن‌کریم آغاز و با دعای خیر پایان یافت.



# د چارو ادارې لوی ریاست اړوند
## املاکو افر پرانیسته ترسره شوه

د چارو ادارې لوی ریاست د غونډو په تالار کې د کابینې او عالي کمېسیونونو چارو د انسجام رئیس او خصوصي سکټور ته د چارو ادارې لوی ریاست د املاکو په قرارداد ورکولو کمیټې مشر مولوي محمدصادق عاکف په مشرۍ، د یادې کمیټې د اعضاوو او داوطلبو شرکتونو د استازو په ګډون د مشترې ځمکې د افر پرانیستې ناسته ترسره شوه.
سه‌شنبه، ۱۴۴۷هـ.ق، شوال‌المکرم ۲۰مه/۱۴۰۵ هـ.ش، وري ۱۸مه.
د غونډې پیل کې د کابینې او عالي کمېسیونونو چارو د انسجام رئیس او د یادې کمیټې مشر وویل چې یاده پروسه په پوره شفافیت ترسره کېږي او له ګډونوالو یې وغوښتل چې په اخلاص او پاک نیت د نظام، کړیدلي ولس او هېواد د ابادۍ برخه کې ګامونه واخلي.
د داوطلبو شرکتونو استازو له یادې پروسې څخه خوښي څرګنده کړه او ډاډ یې ورکړ چې د بریا په صورت کې به د شرطپاڼې مطابق ټولې چارې په ښه توګه ترسره کوي او تر پایه به ټولو اصولو ته ژمن پاتې کېږي.

ورپسې د یادې ځمکې داوطلبي د کمیټې او دواطلبو شرکتونو د استازو په شتون کې په سرتړلي شکل ترسره شوه چې د اعظم عرفان ساختماني او تجارتي شرکت پکې د ۳,۵ میلیونه ډالرو په پانګونې سره ګټونکی اعلان شو او یاده ځمکه له ۱۰ تر ۱۵ کلونو په قرارداد ورکړل شوه چې اسلامي امارت ته به کال کې ۸،۵۲۰۰۰۰ اته میلیونه، پنځه سوه لکه او شل زره افغانۍ ګټه ورکول کېږي.
باید وویل شي چې یاده ځمکه د کابل ښار پغمان ولسوالۍ (څوارلسمه ناحیه) کې موقعیت لري چې ټولیز مساحت یې کابو ۱۶ شپاړس جریبه کېږي.
یاده غونډه چې د قرانکریم په تلاوت پیل شوې وه؛ د خیر دعاء سره پای ته ورسېده.





# برنامه امضای تفاهمنامه صدور جوازهای ساختمانی میان ریاست عمومی اداره امور و شاروالی کابل برگزار شد

برنامه امضای تفاهمنامه صدور جوازهای ساختمانی میان اصلاحات اداری و خدمات ملکی ریاست عمومی اداره امور و شاروالی کابل برگزار شد که در آن شیخ الحدیث مولوی نورالحق انور رئیس عمومی اداره امور، مولوی عبدالرشید بلوچ شاروال کابل، رئیس اصلاحات اداری و خدمات ملکی و شماری از رئیسان و مسؤولین دیگر نیز اشتراک داشتند.

سه‌شنبه ۲۰ شوال المکرم ١٤٤٧ هـ.ق/١٨ حمل ١٤٠٥ هـ.ش

رئیس عمومی اداره امور در این نشست گفت که اگر اراده فساد اداری در امارت اسلامی موجود می‌بود، امور ساده سازی انجام نمی‌شد؛ ادارات امارت اسلامی بر اهمیت ساده سازی آگاه هستند و به شکل دوامدار پروسه های پیچیده را ساده می‌سازند.

شیخ الحدیث مولوی نورالحق انور افزود: در چند دهه گذشته مشکلات زیادی وجود داشت که برخی از آن‌ها حتی به شکل پروژه ایجاد شده بود؛ اما بدون شک احساس ساده‌سازی امور در میان مسئوولین روز به روز قوی‌تر می‌شود و این پروسه نیازمند پیگیری جدی است، زیرا فراهم کردن آسانی برای مردم یکی از اصول مهم اسلام است.

رئیس عمومی اداره امور در سخنان خویش یادآور شد که این تفاهمنامه برای همه هموطنان، به ویژه نیازمندان خبر خوش است که با تطبیق آن تسهیلات زیادی برای آنها فراهم می شود.

برنامه یادشده که با تلاوت قرآن‌کریم آغاز شده بود با دعای خیر پایان یافت.

# د وزیرانو شورا

# اوولسمه غونډه ترسره شوه

د افغانستان اسلامي امارت د وزیرانو شورا اوولسمه غونډه د رئیس الوزراء ښاغلي الحاج ملا محمدحسن اخند په مشرۍ نن چهارشنبه د ۱٤٤۷ هـ ق کال د شوال المکرم په ۲۱مه/ ۱٤۰۵ هـ. ش د وري په ۱۹مه نېټه تر سره شوه.

یاده غونډه چې د قرانکریم په تلاوت پیل شوه پکې د هېواد په مهمو اقتصادي، امنیتي، ټولنیزو او کلتوري مسائلو بحث او ځینې پرېکړې وشوې.

د یادونې وړ ده چې د وزیرانو شورا یاده غونډه د ګڼو موضوعاتو په اړه له تفصیلي بحث او حل وروسته د خیر دعاء سره پای ته ورسېده.






# سیمینار تطبیق رشته‌بندی دوره ثانوی در ۳۹ باب مکتب وزارت معارف برگزار شد

شیخ الحدیث مولوی نورالحق انور، رئیس عمومی اداره امور در سیمینار تطبیق رشته بندی دوره ثانوی در ۳۹ باب مکتب وزارت معارف که در انستیتوت خدمات ملکی اصلاحات اداری و خدمات ملکی ریاست عمومی اداره امور برگزار شده اشتراک و سخنرانی نمود.

یکشنبه،۲۵ شوال المکرم ۱۴۴۷ هـ.ق /۲۳ حمل ۱۴۰۵ هـ.ش

شیخ الحدیث مولوی نورالحق انور، رئیس عمومی اداره امور، گفت: معارف محل اساسی برای اصلاح جامعه است و امارت اسلامی در این بخش توجه کرده است؛ برای نیازمندی های آن محیط بهتر مساعد ساخته است و ابتکاراتی علاوه بر نصاب در سیستم تربیتی استادان نیز نموده است.

رئیس عمومی اداره امور در این سیمینار افزود: در چند دهه گذشته کشور ما درگیر جنگ ها و ناآرامی ها بود، زیربناها ساخته نشد، بنابرین کشور نسبت به کشورهای دیگر عقب ماند؛ ولی اکنون وضعیت تغییر کرده است، زمینه آبادی و رشد مساعد شده است و وقت آن رسیده که خلای گذشته را پر کنیم و گام‌های جدی و عملی برای ایجاد زیربناها برداریم.

این سیمنیار با تلاوت قرآن‌کریم آغاز و دعای خیر پایان یافت.

# د پایلو پر بنس د کلني او ربعوار پلانونو
## او راپورونو ورکولو په اړه ورکشاپ ترسره شو

د چارو اداري لوی ریاست د پلان، ارزونې او امارت د راپورونو د تحلیل ریاست له لوري د امارتي شرکتونو لوی ریاست او د یاد شرکت اړوند ټولو ادارو ته د پایلو پر بنسټ د کلني او ربعوار پلانونو او راپورونو ورکولو په اړه ورکشاپ ترسره شو.
١٤٤٧هـ.ق، شوال المکرم ٢٧مه/ ١٤٠٥هـ.ش، وري ٢٥مه.
دا ورکشاپ د چارو اداري لوی ریاست د امارت د پالیسۍ مرستیال مولوي نذیر احمد ناصري په مشرۍ د چارو اداري لوی ریاست د غونډو په تالار کې ترسره شو چې په کې د پلان، ارزونې او امارت د راپورونو د تحلیل رئیس مولوي نعیم نصرت او د امارتي شرکتونو لوی ریاست استازو ګډون کړی وو.
په دې ورکشاپ کې د چارو اداري لوی ریاست د امارت د پالیسۍ مرستیال مولوي نذیر احمد ناصري د کلني او ربعوار پلان جوړولو پر اهمیت خبرې وکړې او ټینګار یې وکړ چې د ادارو ترڅنګ په شخصي ژوند کې هم پلان جوړول د چارو د منظمیدو لامل ګرځي.

نوموړي زیاته کړه چې د پلان له مخې اداري کولای شي چې خپل فعالیتونه په وخت تنظیم او ستونزې مشخصي کړي او بیا د یادو ستونزو د حل لپاره لازم اقدامات ترسره کړي.
همدارنګه د چارو اداري لوی ریاست د پلان، ارزونې او امارت د راپورونو د تحلیل رئیس مولوي نعیم نصرت هم په خپلو خبرو کې د پلان جوړولو پر اهمیت ټینګار وکړ او زیاته یې کړه چې منظم او دقیق پلان د اداري کارونو ښه تطبیق، ارزونې او شفافیت کې مرسته کوي.
نوموړي د غونډې له ګډونوالو وغوښتل چې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه اللّٰه تعالی د حکم له مخې د خپلو اړوندو وزارتونو او ادارو فعالیتونو راپورونه جوړ او د چارو اداري لوی ریاست سره دې شریک کړي؛ ترڅو له دې لارې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله مقام ته وړاندې شي.
دا ورکشاپ چې د قرانکریم په تلاوت پیل شوی و، د خیر په دعا پای ته ورسېده.






# هیئت مطبوعاتی ریاست عمومی اداره امور به ولایت بلخ سفر کرد

تیم مطبوعاتی ریاست عمومی اداره امور به ریاست مولوی امین‌الله جیلانی، معاون ریاست مطبوعات این اداره به‌منظور آگاهی‌دهی از فرامین شماره ۱۷ و ۲۰ عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله تعالی در سفر به ولایت بلخ (سه شنبه ۲۶ حمل) با حافظ عبدالرحمن همت، شاروال مزارشریف، دیدار و گفت‌وگو کرد.

در این دیدار مولوی امین الله جیلانی، بر آگاهی دهی این فرامین تأکید ورزید و اظهار داشت که رسم و رواج‌های نادرست پیامدهای زیان‌بار و مشکلات متعددی را برای مردم به‌وجود آورده است. وی هدف از این سفر را راه اندازی برنامه‌های آگاهی دهی و نصب بلبوردهای تبلیغاتی در سطح ولایت بلخ به‌ویژه شهر مزارشریف عنوان کرد تا شهروندان از ماده‌های این فرامین آگاه شده و از عنعنات ناپسند فاصله بگیرند.

در ادامه، حافظ عبدالرحمن همت، شاروال مزارشریف تطبیق این فرامین را یک ضرورت جدی خوانده و از تلاش‌های ریاست عمومی اداره امور در راستای اجرای آن قدردانی کرد. وی همچنان بر آمادگی کامل این اداره برای همکاری در تطبیق برنامه‌های یاد شده تأکید نمود.



# د سیاحتي سیمو د مستند کولو او مطبوعاتي

## پوښښ په موخه ناسته ترسره شوه

د چارو اداري لوی ریاست د غونډو په تالار کې د مطبوعاتو رئیس مفتي احسان الله بدر په مشرۍ او کورنیو چارو، ارشاد، حج او اوقافو، اوبو او انرژۍ، اطلاعاتو او کلتور، کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ او ملي دفاع وزارتونو، استخباراتو لوی ریاست، چاپېریال ساتنې ملي اداري، ښاروالیو چارو سمون، کابل ښاروالۍ او افغان تور امارتي شرکت استازو په ګډون د ریاست الوزراء عالي مقام د حکم د تطبیق په موخه د سیاحتي سیمو مستند کولو او مطبوعاتي پوښښ اړوند ناسته ترسره شوه.

پنجشنبه، ۱٤٤۷هـ.ق شوال المکرم ۲۹ مه/۱٤۰۵هـ.ش وري ۲۷مه.

د غونډې پیل کې د چارو اداري لوی ریاست د مطبوعاتو رئیس مفتي احسان الله بدر ګډونوالو ته د موضوع اړوند بشپړ معلومات وړاندې کړل او غوښتنه یې وکړه چې اړوندې اداري دې د پرېکړو د تطبیق او همغږۍ په موخه خپلې چارې په ښه توګه ترسره کړي.

غونډه کې پرېکړه وشوه چې د اطلاعاتو او کلتور وزارت مکلف دی چې څېړنه، تثبیت، پېژندنه، د معلوماتو را ټولول او د سیاحتي سیمو اړوند مستند فلمونو جوړولو په موخه له اړوندو وزارتونو سره په همغږۍ خپله دنده پر مخ یوسي او اړوندې اداري مکلفې دي چې د ګرځندوی صنعت د پراختیا، ودې او عایداتي سرچینو د زیاتوالي په موخه اطلاعاتو او کلتور وزارت سره همکاري او همغږي وکړي.

باید وویل شي چې د دې صنعت وده کولای شي دایمي عایداتي سرچینې رامنځته، د بهرنیو سیلانیانو د جذب زمینه برابره او د ملي حاکمیت او اقتصاد په پیاوړتیا کې مهم رول ولوبوي.

یاده غونډه چې د قرآنکریم په تلاوت پیل شوې وه؛ د خیر دعاء سره پای ته ورسېده.

# ورځنۍ د عقيدې مسئله

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو ادارې لوی رياست
د مطبوعاتو رياست

د مسلمان **عقيده** ۱۲۹

«وَالْمِيثَاقُ الَّذِيْ أَخَذَهُ اللَّهُ تَعَالَى مِنْ آدَمَ؛ وَ ذُرِّيَّتِهِ حَقٌّ». [متن العقيدة الطحاوية: ٦٤].

**ژباړه:** «او هغه ټېنګه ژمنه حق ده چې الله تعالی له آدم علیه السلام او د هغه له اولادې څخه اخیستې ده».

قال الله تعالى: ﴿وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنۢ بَنِيٓ ءَادَمَ ... قَالُواْ بَلَىٰ شَهِدْنَآ﴾. [الأعراف: ۱۷۲].

**ژباړه:** «او (یاد کړه اې محمد ﷺ!) هغه وخت چې واخیستل رب ستا د بني آدم له شاګانو څخه د دوی اولادونه او شاهدان یې کړل دوی پر ځانونو خپلو باندې، (او فرمایل الله ﷻ دوی ته) ایا نه یم زه رب ستاسې! وویل دوی (او اقرار یې وکړ) هو! (ته رب یې زموږ، په ربوبیت د الله) ګواه کړه موږ خپل نفسونه».

[...: ۱/ ۹٦۰].

www.aop.gov.af

# حدیث روز

د افغانستان اسلامي امارت
د چارو ادارې لوی رياست
د مطبوعاتو رياست

روز **حديث** ۴۲۵

عن أوس بن شرحبيل، أنه سمع رسول الله - ﷺ - يقول:

«من مشى مع ظالم ليقويه وهو يعلم أنه ظالم، فقد خرج من الإسلام».

[شعب الإيمان: ۱۰/ ۱۲۷ ط الرشد، رقم الحديث: ۷۲٦۹].

**ترجمه:** از أوس بن شرحبيل روايت شده است که وی از رسول الله ﷺ شنیده است که فرمود: **«کسی که با ظالم همراه شود تا او را قوی گرداند، در حالی که می‌داند او ظالم است؛ او از اسلام خارج شده است».**

www.aop.gov.af



# د فرهنګي او ټولنيزو چارو رئيس د دايکنډي ولايت

## علماوو، سپين‌ږيرو او ځوانانو سره وليدل

د چارو اداري لوی رياست د غونډو په تالار کې د فرهنګي او ټولنيزو چارو رئيس مفتي محمد ادريس انوري، د ياد رياست مرستيال او د فرمانونو او حکمونو د تعقيب رئيس د دايکنډي ولايت له يو شمېر علماوو، سپين ږيرو او ځوانانو سره د هغوی د ستونزو حل په موخه وليدل.

دوشنبه، ۱۴۴۷ هـ.ق ذوالقعدې درېيمه/ ۱۴۰۵ هـ.ش وري ۳۱مه.

د غونډې په پيل کې مفتي محمد ادريس انوري په خپلو خبرو کې د اسلامي نظام شتون لوی نعمت وباله. نوموړي ټينګار وکړ چې د اسلامي امارت مسؤولين د هېواد ثبات، د ټولو ولسونو ترمنځ يووالی او د اسلامي اصولو پلي کېدل خپل مکلفيت ګڼي. هغه زياته کړه، چې د دې نظام د پياوړتيا لپاره د خلکو همکاري او ګډ مسؤوليت اړين دی؛ ترڅو په ټولو برخو کې پرمختګ او نظم رامنځته شي.

د چارو اداري لوی رياست د غونډو په تالار کې د فرهنګي او ټولنيزو چارو رئيس مفتي محمد ادريس انوري، د ياد رياست مرستيال او د فرمانونو او حکمونو د تعقيب رئيس د دايکنډي ولايت له يو شمېر علماوو، سپين ږيرو او ځوانانو سره د هغوی د ستونزو حل په موخه وليدل.

دوشنبه، ۱۴۴۷ هـ.ق ذوالقعدې درېيمه/ ۱۴۰۵ هـ.ش وري ۳۱مه.

د غونډې په پيل کې مفتي محمد ادريس انوري په خپلو خبرو کې د اسلامي نظام شتون لوی نعمت وباله. نوموړي ټينګار وکړ چې د اسلامي امارت مسؤولين د هېواد ثبات، د ټولو ولسونو ترمنځ يووالی او د اسلامي اصولو پلي کېدل خپل مکلفيت ګڼي. هغه زياته کړه، چې د دې نظام د پياوړتيا لپاره د خلکو همکاري او ګډ مسؤوليت اړين دی؛ ترڅو په ټولو برخو کې پرمختګ او نظم رامنځته شي.

"

اسلامي امارت د خلکو لپاره يو نعمت دی او په ټولو برخو کې يې متوازن پرمختګ کړی دی.
اسلامي امارت په هېواد کې امن راوستی، چې له امله يې علم ته ښه زمينه برابره شوې ده.
هېوادوال بايد خپل ماشومان د علم زده کړې ته واستوي.

شيخ الحديث مولوي نورالحق انور
د چارو ادارې لوی رئيس